# د پېښور ځانمرګی برید تی تی پی د داخلي اختلافاتو سره مخامخ دی

د تي تي پي خوارج په پېښور ځانمرګي برید کې بېګناه عبادت کوونکي شهیدان کړل او د قران کریم بې حرمتي يې وکړه ، چې له دې وروسته د تي تي پي د بېلا بېلو ډلو تر منځ اختلافات زيات شول۔

**دسرچينو ترمخه دافغانستان په کونړ ولايت کې دپاکستان پولې سره نزدې سيمو کې دتحريک طالبان پاکستان ددوؤ ډلو ترمينځ سخته جګړه روانه ده چې پکې دڅلورو مهمو کمانډرانو په ګډون اته تندلاري وژل شوي اؤ ګڼ شمير نور ژوبل شوي دي۔ له دغو دوو ډلو څخه يوه يې د پېښور له ځانمرګي برید وروسته د عامو خلکو د غبرګون له امله د دغه برید مخالفت کوي ، په داسې حال کې چې بله ډله د دغه برید په حق کې ده۔ د اختلافاتو شدت بالاخره په داخلي جګړو بدل شو۔**

**د يادونې وړ ده ، چې د تحريک طالبان پاکستان بېلابېلې ډلې په مهمو پوستونو د مفتي نور ولي په غيرعادلانه ګمارنې سخت اندېښمن دي او له هغه څخه د جلا کېدو لپاره بهانې لټوي۔**

انشاءالله هغه وخت لرې نه دی چې د تي تي پي خوارج به يو بل د واک او اقتدار په حرص کې له منځه يوسي ځکه دوی يوازې د خپلو شومو اهدافو پوره کول غواړي او له .شریعت سره هیڅ تړاو نه لري